


زما نوم دی ګرځنده کتابتون- زه هره اونۍ په یو ښونځي کې د کوشنیانو له پاره خوندوري قیصې، کړنې او کتابونه راوړم- کوشنیان زما په لیدو ډېر خوشحاله سي- ما څخه بې شمېره په زړهٔ پورې قیصې دي- یو ټي وي پکې هم پروت دی چې کوشنیان پرې ویډیوي قیصې ګوري او اوري-




زه نن د کوټې یو ښونځي له تللی یم- څنګه چې ښونځي ته ور دننه شوم نو کوشنیانو را ته په زوره لاسونه ټکول- ما ورته په ټیټه سلام وکړ او ورته مې ووئیل، نن ما تاسو څخه ډېرې خوندورې قیصې او یو شمېر کړنې راوړي دي-



کوشنیان به وار په وار ما له راتلل او په
دائره کې به کښېناستل- زما ملګرې استاذې
به دوی ته قیصې اورولې، ورسره به یې
عکسونه هم ښکاره کول-



اوس وار راغی د ټکو د لوبي- ښوونکي کوشنیانو ته ځیني واړۀ واړۀ کارډونه ورکړل او وئیل يې چي څوک به د ټولو څخه زیات ټکي جوړوي؟





زمرک او زرمينې سمدستي لاسونه پورته
کړل چې موږ پنځلس ټکي جوړ کړل- ځيني
ماشومانو له اتو څخه تر لسو پورې ټکي
جوړ کړي وو- او ځينو پنځه، يو څو ډېر
لږ ټکي جوړ کړي وو- استاذې ټولو د پاره
لاسونه وټکول-



زما زړه ډېر خوشحالېږي چي کوشنیان زما دواړه اړخو ته ولاړ وي او د خپلې خوښي کتابونه خوښوي- کله یو کتاب ته لاس کړي او کله بل ته- د یو بل نه صلاح کوي چي کوم یو کتاب د لوستلو له پاره را واخلي-




بیا یو کتاب واخلي او نیزدی درۍ د پاسه کیني او قیصه لولي- ما له هغه وخت ډېر خوند راکړي چي ټول د یو بل سره د کتاب په لوست کي مرسته کوي-



هله دا څهٔ دي؟ يو څو کوشنيان د دوه دوه په جوړو کي او څوک په ډلو کي کتابونه لولي- او يو څو ملګري د نورو ملګرو په لوست کي مرسته کوي- زه باور لرم چي تاسو به هم د خپلو ملګرو په لوست کي مرسته کوئ-



ښه اوس لږ غوږ سئ! استاذه کوشنیانو ته څۀ وائ- خوږو ماشومانو، تاسو له کتابونه وکور ته د وړلو اجازت دی- تاسو د خپلي خوښې یو کتاب خوښ کړئ- زه به په رجسټر کي دا کتاب ستاسو په نوم ولیکم- تاسو یې په کور کي ولولئ او سبا له به بیرته راوړئ- خو د کتاب سره به ډېر پام کوئ ولې چي کتابونه زموږ ډېر ښۀ ملګري وي-



زه د قیصې د اورولو سره سره په ماشومانو کې
د قیصو د لیکل مقابلې هم کوم- دا وګورئ د
دویم ټولګي زده کونکیو څومره ښائسته قیصه
لیکلې ده او ورسره یې رنګ په رنګ عکسونه
هم جوړ کړي دي- ځینو د ځناورو قیصې، ځینو
د ملګرو قیصې او ځینو د خپلې خوښې د لوبو
د شیانو قیصې لیکلې دي-



استاذې ښځ لیکوالو ته په انعام کې د قیصو کتابونه ورکړي دي- زه چې د ښوونځي نه بیرته واپس کېږم نو کوشنیان راته تر لرې پورې لاسونه ښوروي-

# بګ بکس

## د دوېم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بین الاقوامي ترقۍ دپاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ دپاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بګ بُک به په دوؤ هفتو کې لوستلې شي- استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصه واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړې شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکې ماشومان تري هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د بلوچستان په پرائمري سکولونو کې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښووني

پاملرنه: استاذان دي هره ورځ ماشومانو ته ټوله قيصه اوروي او په لاندېني لارښوونو دې عمل کوي-

## وړومبی ورځ (خبرې اترې: پېش ګوئي اوزاړه معلومات)

### تر لوست مخکي:

» زده کونکو ته د قيصې سرپاڼه ورښکاره کولو پر وخت پوښتنه وکړئ چي:
» تاسو ته په عکس کي څۀ څۀ ښکاري؟
» ستاسو په خيال دا قيصه به د څۀ په هکله وي؟

### د لوست په مينځ کي:

» جمله "استاذې کوشنيانو څخه واړۀ واړۀ کارډونه ځيني ورکړل وواېۍ او د زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي ستاسو په خيال کارډونه به د څۀ له پاره وي؟

### تر لوست وروسته:

د خپلي مرضۍ د دوۀ سوالونو تپوس وکړئ:
» کتابتون کي کوم کوم شيان نور هم وو؟
» کوشنيانو به د بس کتابتون ته ولي خوشحالېدل؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### تر لوست وروسته

کېدې سی چي ستاسو په ټولګي کي ځيني داسي لوستونکي هم وي چي مورنۍ ژبه يې پښتو نه وي، دا لاندېني سوالونه يوآځي د دغو لوستونکو څخه وپوښتئ-
» زده کونکو ته د قيصې سرپاڼه ورښکاره کولو پر وخت پوښتنه وکړئ چي:
» تاسو به، د بس کتابتون، په خپله ژبه کي څنګه وائي؟
» په لسم مخ جمله" ښه اوس لږ ږغ شئ! "وواېۍ او زده کونکيو ته وواېۍ چي دا جمله په خپله ژبه کي وواۍ-

» اوس زۀ ستاسو په مخکي څو ټکي لولم تاسو د هغو له ږغونو سره لاسونه وپړکوئ-
» ټکي: کتابتون، وډيو، کارډونه، دائره، لاسونه

## درېيمه ورځ (ذخيره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### تر لوست وروسته

» په نهم مخ جمله "زه باور لرم چي تاسو به هم د خپلو ملګرو په لوست کي مرسته کوئ" ولولئ او زده کونکو ته وواېۍ چي د دی مطلب دی چي ما ته يقين دی هغوي ته او وايئ چي "باور لرم" په خپله جمله کي استعمال کړي-
» په اتم مخ جمله "ما له هغه وخت ډېر خوند راکړي چي ټول د يو بل سره د کتاب په لوست کي مرسته کوي-" ولولئ او زده کونکو ته وواېۍ چي "خوند راکړي" په خپله جمله کي وواېۍ-

## څلورمه ورځ (خبرې اترې: د ذاتي ژوند په هکله)

### تر لوست وروسته

» زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي:
» ستاسو په ښونځي کي د ګرځنده کتابتون بس راځي؟که راځي نو تاسو کومې کومې کړني کوئ؟
» تاسو د بس کتابتون ته خوشحالېږئ که نه؟ ولي؟
» لوست يو ښه کار دئ، که هو نو ولي که نه نو ځله؟
» که د چا لوست نه وي زده نو تاسو به ورته څه واياست؟
» تاسو به دی قيصې ته بل څۀ نوم اږدئ؟

www-pakreading-org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID)- It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government- The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government-

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلقو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چي دا د يو اېس اېډ يا د امريکائي حکومت د نظرېې عکاسي کوي-